مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۰۹/۲۱
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ايالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

دویمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه میرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یې د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یې هغه د ترجمې لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

### پنځم فصل

هيټلر له زکريا سره وکتل او هغه ته يي وويل: چي جرمني به د افغانستان له لاسه تللي خاوره بيرته ورکړي او جرمني افغانانو ته د خپل مشر آرين ورور په سترګه ګوري.
جرمنيانو او ايټالويانو دواړو په افغانستان کي خپل جاسوسان استخدام کړل او د برتانوي هند له قبايلي سيمو سره يي تماسونه ټينګ کړل. د وزيرستان حاجي ميرزاعلي خان يا ايپی فقير د محورد دواړو هيوادونو لپاره يو مهم هدف وو ځکه چي، په برياليتوب سره يي، د برتانيي په مقابل کي، قبايل را پارولي وه. داسي ګومان کېدی چي د محور هيوادنه د سليمان خيلو په علاقه کي هم د قبايلو په بنوربش کي لاس لري او محمد سعدي ګيلاني يي، چي په شامي پير مشهور وو، په ۱۹۳۷ کال کي، استخدام کړی دی. پر دې برسېره، د محور هيوادونو په کابل کي د هند انقلابيانو ته هم پناه ورکوله چي له هغي جملي څخه يي د هند د کانګريس ګوند يوه مشر سوبهاش چندربوس ته، چي له کلکتي څخه کابل ته تښتېدلی وو، ځای ورکړی وو او وروسته د ايټاليي او جرمني د هياتونو په وسيله برلين ته ورسول سو. چندربوس، وروسته د محور د هيوادونو په مرسته جاپان ته ولاړی او هلته يي د هند ملي پوځ تاءسيس کړ او د جاپانيانو سره څنګ پر څنګ د برتانوي هند له پوځيانو سره وجنګېدی. جرمنيانو دغه راز د نيدرماير او هينتيګ پر لاس باندي، د افغانستان د پخواني پاچا امان الله خان قدرت ته د رسولو، يوه بله طرح هم را ميدان ته کړه. دوی فکر کاوه چي امان الله خان به، د يحيی خيلو تر کورنی، چي د محورهيوادونو سره وفادار متحدين نه ورڅخه جوړيږي، زياتره د باور وړ وسيله وي. دغه پروژه د نازي ګوند د خارجي سياست د څانګي د مشر الفرډ روزنبرګ له خوا ځکه له نظره وغورځول سوه چي دی خبر سو چي په دې باره کي له امان الله خان سره هيڅ سلامشوره نه ده سوې او روسيي هم دا مفکوره نه ده منظورکړې.
د محور استازو په کابل کي ډېر زيات کوښښونه وکړل او ډيري زياتي طلاوي يي مصرف کړي مګر چنداني ګټه يي ورته ونه کړه. له کابل څخه د جاسوسيو او دسيسو ډېر لوی مرکز جوړ سوی وو. د محور هيوادونو جاسوسانو هر ډول عجيبي او غريبي دسيسي کولي چي معمولا به يي يو د بل مخالف عمل کاوه. په دې پلانونو کي يوه د سوباش چندربوس طرح وه چي غوښتل يي د هند د خپلواکی لپاره په بهر کي يو حکومت جوړ کړي. يوه د غلام صديق خان چرخي طرح وه چي غوښتل يي امان الله خان قدرت ته ورسوي او اوسنی رژيم نسکور کړي. يوه هم د قبايلو د مقاومت کيسه وه چي فقير ايپي يي مشري کوله. په دې کي لا د برتانيي پر ضد د بيت المقدس د لوی مفتي په څېر ليري کسانو هم برخه درلوده. دې حقيقت په برلين يا کابل کي د محور هيوادونو ته هيڅ انديښنه نه پيدا کوله چي ځيني دغه پلانونه له يوه بل سره نه جوړيږي او کله کله داسي يو د بل پر ضد عمل کوي لکه د متحدينو له خوا چي رهنمايی کيږي. پر دې برسېره لا په کابل کي د جرمني او ايټاليي استازي په ايډيالوژکي لحاظ هم سره مخالف وه. دوی ټول نازي يا فاشيستان نه وه او د يوه بل پر ضد به يي رپوټونه ورکول او د محور د هيوادونو په کار کي به يي مشکلات پيښول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

جاپانیان نسبتا آرام وه او د دې لوبې څخه یې ځانونه په ځنګ ساتلي وه. د محور د هیوادونو جاسوسي مرکزونه یو له بله سره لوېدلي وه او زیاتره وختونه به یې د یوه بل کوښښونه شنډول. په دې جاسوسانو کې یو هم نه د افغانستان په باره کې پوهېدی او نه هم د قبایلو د سیاست په پېچلتیا خبر وه. یوازې یوه ایټالوي له فقیر ایپي سره ولیدلای سوای او دوو جرمنیانو وزیریستان ته د ننوتلو کوښښ وکړ مګر د افغانستان پوځي ګزمي حمله ورباندې وکړه یو یې ورڅخه وواژه او هغه بل یې ونیوی. د برتانیې استخباراتو، د افغانستان حکومت او تر یوه ځایه روسیې د جرمني د جاسوسانو فعالیتونه څارل. کله چې جرمنیانو وغوښتل چې د دغې ګډوډۍ د مخنیوي لپاره هینتیګ په کابل کې د سفیر په حیث مقرر کړي نو د شوروي اتحاد او برتانیې اعتراضونو افغانستان مجبور کړ چې دا پېشنهاد رد کړي.
په عمومي صورت، په افغانستان کې د محور د هیوادونو فعالیتونه متحدینو ته تهدید نه بلکه یو ډول سرګرداني وه. برتانیې د هغوی فعالیت ته په جدي نظر کتل ځکه چې په هند کې یې وضع لړزانه وه او هلته د کانګریس دې مبارزې چې برتانیې ته یې ویل له هنده ووزی زور اخیستی وو او کېدلای سوای چې خبره وسله وال مقاومت ته ورسېږي. د شوروي او نازي د لنډ وخت اتحاد ډېر لوی خطر ایجاد کړی وو. پر شوروي اتحاد باندې د نازیانو له حملې څخه وروسته، په کابل کې پر شوروي اتحاد او برتانیې دواړو باندې فشار زیات سو. د ۱۹۴۱ کال د اګسټ په میاشت کې برتانیې او شوروی اتحاد پر ایران حمله وکړه او شاه یې وپرزاوه. په افغانستان کې د محور د هیوادونو اتباع یو ډول په دام کې ولوېدل او هیڅ بېطرف هیواد ته یې د وتلو لاره نه درلوده. برتانیې او شوروي اتحاد د ۱۹۴۱ کال د اکتوبر پر نهمه او یوولسمه، د ایران له لنډ اشغال څخه وروسته، له افغانستان څخه وغوښتل چې د محور د هیوادونو ټول غیر ډیپلوماټیک اتباع وباسي. افغانستان، زړه نازړه، د دوی دا غوښتنه ومنله. په زړه کې دوی هم له جرمني څخه له دې امله ناراض وه چې د اقتصادي مرستو په پلمه یې له افغانستان څخه د خپلو سیاسي فعالیتونو مرکز جوړ کړی وو او غواړي پر هغه هیواد د محور د هیوادونو ملاتړ کولو ته مجبور کړي. افغانانو د هغوی دغه کار د خپلې مېلمه پالنې څخه د هغوی بده استفاده ګڼله. خو د متحدینو غوښتنه یې هم د خپلې رسمي بېطرفی له سیاست سره مخالفه ګڼله او پر هغوی باندې یې اعتراض وکړ. دوی له شوروي اتحاد او برتانیې څخه وغوښتل چې یوه بېطرف هیواد ته د اخراج سویو کسانو د محفوظ رسېدلو ذمه ووهي. برتانیې د افغانستان دا غوښتنه ومنله.
کله چې اینګرټ په ۱۹۴۲ کال کې په کابل کې د امریکا ډیپلوماټیک دفتر پرانیست ده فکر کاوه چې دا ټولي خبري پخوانی او تاریخي کیسي دي. ده انتظار درلود چې نه یوازې به د محور د هیوادونو اتباع کم سوي وي بلکه د هغوی نفوذ به ډېر کم یا بېخي له منځه تللی وي؛ خو خبره هغسي نه وه. د مثال په ډول، ده ولیدل چې د ۱۹۴۲ کال په پای کې د جرمني د پوځي استخباراتو استازي لیفټیننټ ویزل، له خپل ډیپلوماټیک پوښ څخه په استفادی سره، په سرحد کې د انګریزانو پر ضد قبایل پارول. بوس په برلین کې پېشنهاد کړی وو چې دغه دفتر باید په هند کې د برتانیې پر ضد تحریک سره خپل فعالیتونه تنظیم کړي. ویزل ادعا کوله چې ۴۰۰ زره قبایلي خلک ښایي د برتانیې پر ضد راپورته سي او ویل یې چې د فقیرایپي سره یې هغوی ته د مالي مرستو رسولو او د الوتکو په وسیله د وسلو د برابرولو پلان جوړ کړی دی. خو د دې پلان بریالیتوب په قفقاز کې د برلین په بریالیتوب پوري اړه درلوده چې هغه تر لاسه نه سو.
اینګرټ پوه سو چې په افغانستان کې د محور د هیوادونو له پالیسیو سره ډېر ټینګ ملاتړ موجود دی او ډېر افغانان اوس هم په دې هیله دي چې ګوندي د محور هیوادونه به بریالي سي. ځیني د نفوذ څښتن افغانان د متحدینو له دې فشار سره سخت مخالف ول چې په نتیجه کې یې د محور د هیوادونو اتباع له هیواده وایستل سول. ځیني په دې خواشیني وه چې په افغانستان کې د محور د هیوادونو له برکته تازه صنعتي او اقتصادي پلانونه پیل سوي وه او د هغوی له وتلو سره ټول په اوبو لاهو سول. ډېرو افغانانو له برتانیې او روسیې سره دښمني درلوده او هیله یې درلوده چې د محور هیوادونه به د هغوی قدرت مات کړي. افغان مشرانو د هند د آزادی له تحریک سره ډېره ټینګه خواخوږي درلوده او روسیه او برتانیه یې دواړه په اسیا کې استعماري طاقتونه بلل خو نه یې جرمني او نه یې جاپان او ایټالیې ته په دې سترګه کتل. اینګرټ له دې امله ډېر خواشینی وو چې د افغانستان په کابینه کې لږ ترلږه دري وزیران: د دفاع وزیر شاه محمودخان، د ښووني او روزني وزیر فیض محمدخان او د ملي اقتصاد وزیر عبدالمجیدزابلي د جرمني د نفوذ ډېر ټینګ طرفداران دي. محمد داوود خان، چې د مرکز د قواوو قوماندان وو، ښاغلي اینګرټ ته په یوه ماښامنی مېلمستیا کې وویل چې د محور د هیوادونو بری یقیني دی او افغانستان باید له دغه راتلونکي سره سم عمل وکړي. خو اینګرټ وویل چې له نېکه مرغه صدراعظم محمدهاشم خان یو قوي رهبر دی او هغه د متحدینو ډېر ټینګ طرفدار دی. سره له هغه هم له اینګرټ سره اندېښنه موجوده وه او کله چې یو عالي رتبه امریکایي ډیپلوماټ نوریس ایس هېزلټن Norris S Haselton هند ته په رسمي سفر روانېدی نو ده له هاشم خان سره د لیدلو غوښتنه وکړه. هاشم خان اینګرټ ته وویل چې هغه په خپله کابینه کې د جرمني د طرفدارانو له خوا تر فشار لاندي دی مګر دی د امیرحبیب الله په څېر د ځندولو له تاکتیکونو څخه کار اخلي او د محور مقاماتو ته وایی چې تر څو پوري د محور د هیوادونو پوځیان افغانستان ته او یا افغانستان ته نیژدې را ونه رسیږي دی په ځرګنده د هغوی ملاتړ نه سي کولای. اینګرټ واشنګټن ته پېشنهاد وکړ چې، د افغانانو د روحیاتو د تقویه کولو په منظور، د بمب غورځوونکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

الوتکو یوه قطعه باید یا د هند په شمال لوېدیځ او یا د ایران په شمال ختیځ کي ځای پر ځای سي او په دې توګه د دوی دا عقیده کمزوري سي چي د محور د هیوادونو بری یقیني دی.
واشنګټن اینګرټ ته وظیفه ورکړې وه چي د افغانستان له حکومت سره دوستانه اړیکي ټینګ کړي او د متحدینو سره د افغانانو د همکاری د ترلاسه کولو لپاره له خپل نفوذ څخه کار واخلي. اینګرټ ته، پر دې برسېره، یو پټ هدایت ورکړه سوی وو چي چین او روسیې ته د متحدینو د اکمالاتو د یوې لاري د پرانیستل کېدلو په صورت کي د افغانانو همکاری کولو ته زمینه برابره کړي. هغه لاري چي په برما او ایران کي تېرېدلې، په جنوب ختیځه اسیا کي، د جاپان د بریالیتوبونو، او د روسیې پر لور د جرمني د پرمختګونو له امله تر خطر لاندي وې. د لویو درستیزانو د ګډي کمېټې له خوا یو اشد محرم پلان تر کار لاندي وو چي د هغه په اساس به د افغانستان له لاري یوه اکمالاتي لاره پرانیستل کېدلای او حتی پر دې پلان باندي جدي غور کېدی چي د هند د اورګاډي سستم د روسیې د اورګاډي له سستم سره وصل سي. د دې ټولو خبرو معنی دا ده چي افغانستان د متحدینو د جنګي پلانونو لپاره ډېر زیات ستراتیژیک اهمیت درلود؛ او د دې پلانونو لپاره د یوې ډیپلوماتیکي لاري د برابرولو لپاره باید اشد محرم اقدامات سوي وای. څرنګه چي افغانستان په هغه هیواد کي د امریکا د یوه دایمي ډیپلوماتیک دفتر د پرانیستل کېدلو لپاره ډېر زیات پیشنهادونه کړي وه نو اینګرټ هیله درلوده چي د ده د پیشنهادونو به ډېر تود هرکلی وسي او هیڅ خنډ به موجود نه سي. خو ده ولیدل چي په افغانستان کي له امریکا سره نه بلکه د هغه هیواد له متحدینو سره ډېر سخت مخالفت موجود دی؛ د ده له پیشنهادونو سره ډېر ټینګ مقاومت کیږي او په هغه هیواد کي د محور د هیوادونو ډېر زیات طرفداران موجود دي.
اینګرټ دغه راز پوه سو چي د جنګ په وخت کي له برتانیې سره د امریکا ملګرتوب ته افغانان په ښه سترګه نه ګوري. کله چي دی کابل ته ورسېدی نو لومړی یې دا فکر کاوه چي دی باید د برتانیې له ډیپلوماتیک هیات څخه ځان لیري وساتي؛ مګر ډېر ژر پوه سو چي دا کار چنداني ورته ګټور نه دی. برتانیې په افغانستان کي ډېره اوږده تجربه درلوده چي هغه د یوه نوي مقرر سوي امریکایي لپاره یې بې اندازې ارزښت درلود. دغه راز د استخباراتي اړیکو د ټینګولو، نورو تماسونو، د فشار اچولو لپاره د اشخاصو او ډلو په باره کي اطلاعات او نور داسي مهم ډیپلوماتیک منابع وه چي د برتانیې له ډیپلوماتیک دفتر سره ورسره وه او له امریکا څخه یې نه سپمول. کله چي اینګرټ کابل ته ورسېدی نو یو له لومړنیو لیکونو څخه د برتانیې د سفیر سر فرانسیس وایلي ډېر دوستانه لیک وو او له اینګرټ څخه یې غوښتي وه چي دواړه ډیپلوماتیک دفترونه باید نیژدې همکاري سره ولري. اینګرټ پوهېدی چي دا اړیکي به پر افغانانو ښه ونه لګیږي ځکه چي افغانانو له مخکي لا ویلي وه چي د امریکا ډیپلوماتیک دفتر د برتانیې لپاره د یوه بل دفتر حیثیت لري، چي د هغه له لاري له خپل کارونه سرته رسوي. مګر کله چي ده خپل کارونه سمبال کړل نو پوه سو چي له برتانیې سره د ده اړیکي یوازې د متحدینو لپاره نه بلکه د افغانستان لپاره هم په ګټه دي.
د جنګ په حالاتو کي د تغییراتو له راتللو سره، په افغانستان کي د اکمالاتو د لارو د تېرولو پلانونه به هم کله ضروري ښکاره سول او کله به له نظره ولوېدل. اینګرټ، په مختلفو پلمو، نوي ډهلي ته څو سفرونه وکړل او هلته یې د لارډ لویس مونټ بېټن Lord Louis Mountbatten سره وکتل او د هغه پر پوځي پلانونو یې خبري ورسره وکړې.
چارلس تېیر Charles Thayer له کابل څخه ، د لارو په باره کي، رپوټ ورکړ او د روسیې ړ منابعو په حواله یې ولیکل چي د واخان له لاري تر چین پوري د لاري جوړول عیرممکن کار دی او ترمیز څخه الماتا او بیا په چیني ترکستان کي تر اورومچي پوري د لاري جوړول ممکن دي. جیولوجیسټ ارنیسټ فاکس، چي په افغانستان کي یې ډېر زیات سفرونه کړي وه او د تېلو د پلټنو د اینلینډ شرکت لپاره یې ډېر کار کړی وو، په ۱۹۴۴ کال کي د امریکا په ډیپلوماتیک دفتر کي، د جګړن په رتبه، پوځي آتشه سو. ده د جنګ وزارت ته رپوټ ورکړ چي چینایان له سینکیانګ څخه د افغانستان له لاري د کراچۍ تر بندر پوري د یوې لاري سره علاقه لري. ده پیشنهاد وکړ چي د امریکایي هیات یوه غړي ایلبرټ جي مېتیوز Elbert G. Mathews ته دې اجازه ورکړه سي چي د بدخشان څخه تر کاشغر پوري ولاړ سي او د لاري د جوړېدلو په برخه کي پلټني وکړي. د متحده ایالاتو د جنګ وزارت له دې پیشنهاد سره ډېره علاقه وښودله او پر هغه باندي یې جدي غور پیل کړ؛ مګر کله چي شورویانو په ستالینګراډ کي د جرمني د پرمختګ مخه ونیوله نو دلچسپي یې له لاسه ورکړه. جاپان د برما د لاري په قطع کولو کي ناکام سو او د هوا له لاري د چین اکمالول زیاتره ممکن وبرېښېده. دا د تعجب وړ خبره ده چي د جنګ په کلونو کي څرنګه د افغانستان له لاري، روسیې او چینایي ترکستان ته د اورګاډي د تېرولو په څېر بې نهایته قیمتي پروژو باندي، پرته له مشکلاتو، غور کېدی؛ او وروسته بیا همدغي امریکا له افغانستان سره پر یوه ډالر باندي چنې وهلې او پر ډېره کوچنۍ پروژه به یې د لګښتونو د ټاکلو لپاره جدي غور کاوه.
اینګرټ کوښښ وکړ چي د محور د هیوادونو نفوذ کم کړي او په هر ځای کي خپل بشپړ اعتماد وښیي چي متحدین په هیڅ صورت ماته نه خوري او دا جنګ به حتما ګټي. ده د هري طبقي له افغانانو سره دوستانه اړیکي ټینګ کړل او هرځای به یې ویل چي د امریکا بې اندازې زیات مالي او پوځي قوت به بالاخره جنګ د متحدینو په ګټه تمام کړي. کله چي د محور د هیوادونو ماته خلکو ته یقیني سوه نو اینګرټ ولیده چي افغانانو د متحدینو طرفداري پیل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

کړه. ده ولیدل چي په افریقا، بحرالکاهل او اروپا کي پر محور هیوادونو باندي د متحدینو بریالیتوبونو، د متحدینو په ګټه، د ده تر تبلیغاتو زیاته اغېزه وکړه او ډېرو زیاتو افغانانو د محور د هیوادونو ملاتړ پرېښود.
کله چي د محور هیوادونو د ماتي احتمالات زیات سول نو د افغانستان حکومت هم داسي اشاري ورسولي چي غواړي له متحدینو سره پوځي اړیکي ولري. لومړنی اشارې جګړن فاکس ته وسوې. لومړی خو د امریکا د پوځي طرزالعمل په باب پوښتني مطرح سوې، وروسته یې د امریکا د پوځي خپرونو په باره کي سوالونه وکړل او په پای کي داوود خان د امریکا څخه د خپلو ځینو پوځیانو د روزلو غوښتنه وکړه. په پای کي یې وغوښتل چي که امریکا څو تنه پوځي روزونکي افغانستان ته ولیږي او د هغو ترکانو ځای ونیسي چي له ډېري مودې راهیسي په افغانستان کي په فعالیت لګیا دي. واشنګټن څو ځله ورته وویل چي پر دې به بحث وسي او وروسته یې منفي جواب ورکړ. له چارلس ټېلر څخه ، چي دا وخت د جنګ په وزارت کي یو جګړن وو، په دې باره کي پوښتنه وسوه هغه وویل چي متحده ایالات دي د پوځي روزونکو پر ځای ښوونکي ور ولیږي. په پای کي هیڅ اقدام هم ونه سو. دا افغانستان ته د پوځي مرستو په سلسله کي لومړنی منفي جواب وو او له دې څخه وروسته امریکا ډېر زیات منفي جوابونه ورکړل.
دغه راز پیشنهادونو، تر یوه ځایه، له افغانانو سره د اینګرېت دوستي ټینګه کړه مګر له بلي خوا یې د متحدینو په منځ کي د افغانستان ارزښت کم کړ. او دې وضعیت د اینګرېت لپاره د هغه دریمي مهمتري ستونزي حلول مشکل کړل چي دی کابل ته له رسېدلو سره سم ورسره مخامخ سوی وو؛ او هغه دا چي افغانستان ډېري سختي او عاجلي اقتصادي ستونزي درلودلي. د جنګ د وخت حالاتو، په وچه کي را ګیر افغانستان ته د خپلو مالونو د صادرولو او ضروري مالونو د واردولو امکانات له منځه وړي وه. څرنګه چي افغانستان د محور د هیوادونو اتباع ایستلي وه نو د تخنیکي او تربیوي پرسونل یوه خلا یې منځته راوړې وه. د متحدینو د جنګ د وخت اداره کونکو ،چي په واشنګټن کي ناست وه، د افغانستان خارجي تجارت عملا له کاره غورځولی وو. هغوی له افغانستان سره د مرستو کولو او یا د دې هیواد اړتیاوو ته د توجه کولو لپاره هیڅ دلیل نه لیدی. دغو هیاتونو ته د افغانستان لپاره د متحدینو د ستراتیژیک پلان په باب هیڅ معلومات نه وه ورکړه سوي. دا ډېره ګرانه وه چي څوک دي د واشنګټن بیروکراټانو ته په دې خبري قناعت ورکړي چي که په افغانستان کي د اقتصادي کړاو او ستونزو له امله ګډوډي راسي دا حالت د هند په سرحد کي د قبایلو د وضع پر ثبات باندي منفي اغېزه کوي او په نتیجه کي د متحدینو ګټو ته تاوان رسوي.
کابل ته د اینګرېت له رسېدلو سره سم، له هغه څخه افغان مقاماتو غوښتنه وکړه چي لطفاً د محور د تخنیکرانو او ښوونکو پر ځای نور کسان ورته برابر کړي او د افغانستان د صادراتو او وارداتو لپاره تسهیلات برابر کړي. افغانانو ټینګار کاوه چي د دوی د پالتو سامانونو، ټایرونو، له پټرولو څخه ترلاسه سویو موادو، دارودرملو، او نورو ضروري موادو ذخیري، چي پخوا یې هم مزه نه وه، په بشپړ ډول تشي دي؛ او د دغو موادو کمبود ښایي ډېر ژر د عمومي ناکراریو سبب سي او په نتیجه کي حکومت پخپله په خطر کي لویږي. اینګرېت دا ستونزه وڅېړله، د افغانانو د ادعاوو د حقیقت معلومولو لپاره یې تحقیقات وکړل، له خپلو ډیپلوماټانو ملګرو سره یې سلا وکړه او دا یې ومنله چي افغانستان له سخت اقتصادي او سیاسي حالت سره مخامخ دی. د افغانستان حکومت د خلکو د وارخطایي له ویري له هغوی څخه دا ستونزي پټي ساتلي وې؛ مګر هغه وخت نیژدې وو چي نور نو د ستونزو پټولو امکان نه درلود. د افغانستان حکومت په هند کي د برټانیي پر پوځیانو باندي د خوراکي موادو د خرڅلاو له درکه ښې پیسې ترلاسه کړي وې؛ نو په دې حساب، که دوی ته د ضرورت وړ مواد چا رسولي وای دوی پیسي ورته درلودې.
اینګرېت وروسته له لوړو مقاماتو سره تماسونه ونیول او چي تر کومه ځایه پوري یې ږغ رسېدی هلته یې خواست وکړ چي د افغانستان اقتصاد له رکود څخه را وکرځوي. ستونزه په دې کي وه چي په واشنګټن کي د متحدینو د جنګ د وخت ادارو نورو هیوادونو ته د موادو د لېږلو خدمات بند کړي وه او دې بندیز پر بیطرفو هیوادونو باندي ډېره سخته اغېزه کوله. اینګرېت واشنګټن ته دا خبره وکړه چي که په افغانستان کي د ضروري موادو د کمبود له امله ناکراری منځته راځي نو د افغانستان حکومت به د خپلو محرومیتونو ټوله پړه پر متحدینو باندي واچوي؛ او د محور هیوادونه به د دوی له احساساتو څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. پر دې برسېره به په افغانستان کي د موادو کمبود په نیسمتنو قبایلي سیمو کي هم احساس سي او هغوی به د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره په هند کي پر غني سیمو باندي حملې وکړي. بیا به نو د برټانیي پوځونه مجبور وي چي په هند کي پاته سي او نورو هغوی ځایونو ته به چي ضرورت ورته موجود دی ځانونه نه سي رسولای او دا هغه حالت دی چي د محور هیوادونو د هغه د منځته راتللو لپاره کار کاوه او پکښي ناکام سول.
د اینګرېت د خطر چیغي په خارجه وزارت کي په ډېر لوړ ږغ او ښه صفا واورېدلي سوې او د جنګ د وخت د ادارو او برټانیي د قانع کولو، او د افغانستان ضرورتونو ته د هغوی د توجه را اړولو لپاره جدي کوښښ وسو او هغوی ته وویل سوه چي د هغه هیواد اړتیاوو ته خاصه پاملرنه وکړي. د جنګ د وخت په ادارو کي د متحدینو استازو هم برخه درلوده او څرنګه چي په هغه وخت کي ټولو هیوادونو د عاجلو مرستو ناری وهلي نو دوی یو ډول بدبین سوي وه او د چا په نارو یې باور نه کاوه او د یوه خاص هیواد لپاره د خپلو سختو مقرراتو څخه نه سوای تېرېدلای؛ په تېره بیا په بیطرفو هیوادونو کي یې، چي د جنګ په جریان کي یې د دوی ملاتړ نه وو کړی، چنداني ری نه واهه. څرنګه چي د جنګ د وخت اسرار باید پټ ساتل سوي وای نو دوی ته د افغانستان د ستراتیژیک اهمیت په باره کي معلومات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

نه سوای ورکول کېدلای او دا هغوی ته نه سوای ویل کېدلای چې افغانستان، چین او روسیې ته د اکمالاتو د رسولو لپاره، د یوې لارې په توګه، په نظر کې نیول سوی دی. په حقیقت کې په خارجه وزارت کې هم چنداني څوک په دې نه وه خبر چې د جنګ د وخت پلان جوړوونکو ولې افغانستان ته مهم ستراتیژیک اهمیت ورکاوه. څرنګه چې برتانیه د افغانستان په برخه کې زړه نازړه وه نو دې موضوع له وضع سره مرسته ونه کړه. په هند کې دوی پخپله، د موادو پر لېږلو باندې د محدودیتونو د لګېدلو له امله، له سختو ستونزو سره مخامخ وه. د هند په حکومت کې د جنګ د وخت ځوانو بیروکراتانو افغانستان ته د ضروري موادو د رسولو سره چنداني علاقه نه درلوده ځکه هغه مواد چې افغانستان واردول پخپله د هند له استحقاق څخه کمېدل. د هند حکومت د جنګ د وخت په ادارو کې خپل استازي درلودل او هغوی د دغه نظر تر اغېزې لاندې وه. زاړه هندیان، چې په نوي ډهلي کې یې د برتانیې په ادارو کې کار کاوه، په شمال لوېدیځه صوبه کې د ناکراریو د منځته راتللو خطر ته متوجه وه او له دغه امله یې له افغانستان سره د مرستو طرفداري کوله.
د دې موضوع په ارتباط راپورته سوې بوروکراتیکه جګړه ډېره اوږده او ترخه وه. اینګرېټ، په منتهی هوښیارۍ، له خپلو متحدینو سره دا موضوع پر مخ بوتله. هغه لومړی، په کابل کې، د برتانیې له ډیپلوماتیک هیات څخه مرسته وغوښتله. ده غوښتل چې وروسته له متحده ایالاتو او برتانیې څخه وغواړي چې افغانستان ته د موادو د لېږلو په برخه کې یوه ګډه پالیسي جوړه کړي. دی په دې کوښښ کې بالاخره یو څه بریالی هم سو مګر ده په همدغه وخت کې د افغانستان لپاره د وارداتو او صادراتو د یوه ټاکلي استحقاق د تعینولو لپاره هم کار وکړ. دا ډېر سخت کار دی. له ده سره په دې هڅو کې د خارجي خدماتو څو تنه ځوان کارکوونکي هم ملګري ول. دا کسان که څه هم ځوانان وه خو د جنګ په کلونو کې یې په خارجه وزارت کې د منځني ختیځ په څانګه کې حساس پوستونه تر لاسه کړي وه. دا کسان ټول په وروسته کې لوی ډیپلوماتان سول؛ ټولو اینګرېټ پېژاند، هغه یې خوښ وو او اعتماد یېورباندې درلود. دوی کوښښ وکړ چې هند ته په لېږل کېدونکو مالونو کې افغانستان ته ځای پیدا کړي او دغه راز له هغه هیواد څخه د قره قل د پوستکو او نورو شیانو د واردولو لپاره هم په کښتیو کې ځای پیدا کړي.
خارجه وزارت هم کوښښ وکړ چې دا مرستې منظوري کړي خو د هند حکومت مخالفت وکړ او برتانیې هم زړه نا زړه د هغوی ملاتړ وکړ. اینګرېټ خپل ټول کوښښ وکړ خو هر ځای به کله د هند، کله د برتانیې، کله د امریکا، کله د جنګ د وخت ادارو او کله هم ټولو په ګډه مخالفت څرګند کړ او د افغانستان اړتیاوو ته لازمه توجه ونه سوه.
د ۱۹۴۴ کال د سپټمبر تر میاشتې پورې اینګرېټ او خارجه وزارت فیصله وکړه چې دغه بوروکراتیک خنډونه او میرزایي ګاني باید له مخه لیرې سي او له افغانستان سره د مرستو یو ټاکلی پروګرام باید پیل سي. دوی کوښښ وکړ چې په ادارو کې د برتانیې او هند د ویټو رایه له منځه یوسي. دغه خنډونه بالاخره له منځهولاړل او د افغانستان لپاره د وارداتو او صاداراتو په لاره کې تسهیلات رامنځته سول خو خنډونه په بشپړه توګه لیرې نه سول. د افغانستان مقامات، له صدراعظم څخه تر کښته مامورینو پورې ټول د اینګرېټ په نه ستړې کېدونکو هلو ځلو خبرول او ټولو یې ستاینه کوله. ځکه چې د ده کوښښونو بالاخره د امریکا او افغانستان ترمنځ د نیږدې اړیکو د قایمولو لپاره لاره هواره کړه. اینګرېټ دغه راز کوښښ وکړ امریکا دې ته راولي چې افغانستان ته، د جرمني او ایټالیې د ښوونکو او تخنیکرانو په عوض کې، خپل ښوونکي او تخنیکران ولیږي. که څه هم چې امریکا په هغه اندازه کسان وانه ستول خو خلا یې یو څه ډکه کړه. او ښوونکو پر هغو ځوانانو باندې، چې دوی درس ورکاوه، دوامداره اغېزه پرېښودله. کله چې د امریکا د ستراتیژیکو خدماتو ادارې ( OSS ) ، چې د متحده ایالاتو د جنګ د وخت جاسوسي اداره وه، کوښښ وکړ چې خپل ځیني استازي د ښوونکو په دغه پروګرام کې شامل کړي نو اینګرېټ د یو څه ستونزو سره مخامخ سو.
له افغانستان سره د امریکا د ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګولو پروګرام، چې له ډېره وخته یې انتظار ایستل کېدی، د جنګ په وخت کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ سو خو بالاخره، تر ډېره ځایه، د کورنیلیوس اینګرېټ او د هغه د مسلکي ملګرو د هلوځلو له برکته، پیل سو. دوی د امریکا لپاره د افغانانو د زړه له کومې مننه ترلاسه کړه. البته افغانان سخت سري خلک دي او ژر په چا اعتماد هم نه کوي او د داسي خلکو مننه ترلاسه کول هم اسانه کار نه دی. کله چې اینګرېټ، په ۱۹۴۵ کال کې، له افغانستان څخه روانېدی نو په دې پوهېدی چې خپله وظیفه یې په ښه توګه بشپړه کړې ده او د افغانستان او امریکا تر منځ د دوستی رابطه یې قایمه کړې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ